## مطبوعاتي اعلامیه

«هُمُ الْعَدُوُّ فَاحْذَرْهُمْ قَاتَلَهُمُ اللَّهُ أَنَّى يُؤْفَكُونَ»

**هغوی واقعي دښمنان دي، ترې لرې شئ، الله سبحانه وتعالی یې دې ووژني! څرنګه له حق څخه لرې کېږي**



(ژباړه)

د ۲۰۱۷م د دسمبر په ۱۳مه د چهار شنبې په ورځ  د ټرمپ د هوډ په غبرګون کې، چې قدس یې د یهودو د دولت پلازمېنه اعلان کړه، د ۵۵ اسلامي خاورو  مشران په استانبول کې سره راټول شول. د مسلمانانو هغه ګومان چې حاکمان یې هېڅ نه شي کولی او مزدوران یې بلل، رښتیا شو؛ ځکه په هغه ناسته کې ټول ویناوال له خپل عادت سره سم، غمجمن شول، نیوکې او غندل یې کول. دا ځګه چې د مسلمانانو اوسني حکام د ښکېلاګر کافر غرب کوډاګیان، غرب ته د اسلام پر وړاندې مهرې او ابزار دي، د مسلمانانو د اسلامي ژوند د بیا راتګ خنډ او د غرب د ګټو تامینولو ته تږي دي. داسې کسان دي، چې غرب ته اجازه ورکوي، چې د مسلمانانو شتمنۍ او سرچینې لوټ او خاورې یې اشغال کړي.

د هغوی د وینا په څېړلو سره دې پایلې ته رسېږو، چې دوی ټولو غوښتل ترڅو د «نړیوال مشروعیت» له هوډ سره سم، ختیځ قدس د فلسطین پلازمېنه وپېژندل شي. دغو حکامو ته یوازینۍ معتبره سرچینه نړیوال هوډونه دي او دغه هوډونه ښکېلاکګرو کافرو هېوادونو د خپلو ګټو د تامینولو او د اسلامي امت د وېشلو لپاره له هغه وروسته را منځته کړل، چې خلافت یې له منځه یووړ او د مسلمانانو خاورې یې په ۵۵ کوچنیو هېوادونو ووېشلې. دغه کوچیني هېوادونه کفري قوانین او کفري هوډونه سپېڅلي ګڼي او د الله سبحانه و تعالی  او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم له قوانینو او شریعت سره جګړه کوي.

چارواکي په خپلو دغو څرګندونو خپلو بادارانو ته خپله وفاداري او په استعمارګرو هېوادنو کې خپل ملکیت ثابتوي. که هغوی د خپل سازمان (د اسلامي مرستو سازمان) شعار ته ژمن وی، خامخا پوهېدل چې اسلام د یو واحد دولت، یو امام او خلیفه تر رهبرۍ لاندې د مسلمانانو وحدت واجب کړی، نه د څو حکامو تر رهبرۍ لاندې، ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

**«إِذَا بُويِعَ لِخَلِيفَتَيْنِ، فَاقْتُلُوا الْآخَرَ مِنْهُمَا.»**

***ژباړه:*** *هر کله چې له دوو خلیفه ګانو سره بیعت وشو، نو دویم یې ووژنئ.*

په بل حدیث کې یې داسې ویلي:

**«سَتَكُونُ هَنَاتٌ، وَهَنَاتٌ، فَمَنْ أَرَادَ أَنْ يُفَرِّقَ بَيْنَ أَمْرِ الْمُسْلِمِينَ وَهُم جَمِيعٌ فَاضْرِبُوهُ بِالسَّيْف كَائِنًا مَنْ كَانَ»**

***ژباړه:*** *زما په امت کې به شر او فساد، سختي او کړاوونه زیات شي، په هغه حالت کې چې مسلمانان متحد وي او هر چا چې وغوښتل په مسلمانانو کې تفرقه واچوي، غاړه یې په توره ووهئ که هر څوک و.*

همدا راز فرمایي:

**«مَنْ أَتَاكُمْ وَأَمْرُكُمْ جَمِيعٌ عَلَى رَجُلٍ وَاحِدٍ يُرِيدُ أَنْ يَشُقَّ عَصَاكُمْ أَوْ يُفَرِّقَ جَمَاعَتَكُمْ فَاقْتُلُوهُ»**

***ژباړه:*** *کله مو چې چارې د یو شخص په لاس کې وې اوکوم کس ستاسو تر منځ د تفرقې اچولو قصد وکړ او ستاسو د یووالی د ړنګولو کوښښ یې وکړ، هغه ووژنئ.*

امام نووي رحمه الله په شرح مسلم کې داسې فرمایي: «دغه روایتونه، له هغه چا سره د جګړې او قتال امر کوي، چې د امام او خلیفه پر وړاندې راپورته کېږي او غواړي په مسلمانانو کې تفرقه واچوي او یا د همداسې کسانو د مخنیوي په اړه دي؛ خو که غلي نه شول، جګړه دې ورسره وشي، او که د هغو شر له قتل پرته له منځه نه تله، باید ووژل شي او دغه حدیث د دوو امامانو او خلفاوو د ټاکلو په منع دلالت کوي، ځکه دغه کار په تاسې کې د اختلاف، فتنې او د نعمت د زوال لامل کېږي. پر دغې چاره یې د اجماع امر هم را نقل کړی: ټول علما په دې امر د نظر اتفاق لري، چې جایزه نه ده په یو وخت کې له دوو خلفاوو سره بیعت وشي.»

**اې رهبرانو او مشرانو!** موږ ته ووایئ: کوم شریعت او قانون پلی کوئ، د الله سبحانه وتعالی شریعت او که د الله د دښمنانو!؟ ایا د الله سبحانه وتعالی شریعت یهودو ته د فلسطین د یوې لویې برخې د ښئلو جواز ورکوي!؟ ایا د الله سبحانه و تعالی شریعت په لسګونو کوچنیو هېوادونو د اسلامي خاورو وېشلو ته جواز ورکوي!؟ او یا دا چې د خاورو وحدت واجب دی؟ تاسو پوهېږئ که امت د یو واحد دولت تر سیوري لاندې متحد شي، په هغه وخت کې به د مسلمانانو دولت له هر اړخه په نړۍ کې اول او زبرځواک شي او ټول هېوادونه به د دغه دولت د رضایت لاسته راوړلو لپاره هڅې کوي. امریکا او نور ټول دولتونه جرات نه شي کولی چې د دغه دولت پر وړاندې څه وکړي او د یهودیت دولت بهیر به په نړۍ کې قطع شي.

**اې مسلمانانو!**

د ټرامپ له لوري د يهودانو د پلازمېنې په توګه د قدس د پېژندلو  قضيه په استانبول کې د مسلمانانو له راټولو شوو چارواکو او اوسني عصر سره تړاو نه لري؛ ځکه ان د عثمانيانو د خلافت په وخت کې يهودانو ختيځ قدس د غزې، کرانې او فلسطين دولت د پلازمېنې په توګه غوښته او لوېديځ قدس او ان د فلسطين ټوله خاوره يې د خپل دولت ملکيت ګڼله! اصلي قضيه دا ده، چې فلسطين له قدس او ټولو کليو او ښارونو سره د اسلام خراجي خاوره ده، چې تر قيامته د ټول اسلامي امت ملکيت دی، ازادول يې او د يهودانو د دولت له منځه وړل يوازې او يوازې د مسلمانانو پر پوځونو واجب دي، نه پر سياسي مذاکرو او يا اوږد مهاله يا لنډ مهاله اوربندونو. ان د فلسطيني خلکو خوځښتونه او پاڅونونه هم فلسطين نه شي ازادولی، که هر څومره دغه خوځښتونه ډېر يا کم وي. له شک پرته فلسطين يوازې د الهی نظام ځواک ازادولی شي، چې پوره شمېر ولري او هم پر پوره تجهيزاتو لکه: ايمان، پلان، تمريناتو، درنو وسلو، ټانګونو، راکټونو، توغنديو او توپونو سمبال وي.

**اې مسلمانانو!** دغه حکام امت ته د قناعت له لارې د يهودانو د منلو او د دوی له لوري د يوه هېواد په توګه ګواکې فلسطينيانو ته د بې ارزښته ځايونو غربي ټرانګې، غزې ټرانګې او ختيځ قدس د منلو پر وړاندې په سوله‌ييزه توګه د غبرګون ښوولو له لارې د امت د دښمنانو امرونه پر ځای کوي. او له هېڅا پټه نه ده چې ځينې حاکمان د يهودو حاکميت په رسميت پېژني او له دې سره سره د يهودو بيرغ په ښرګند ډول په قاهره، انقره او عمان کې رپېږي او په ځينې نورو اسلامي خاورو کې په پټه ځوړند دی او رپېږي.

**اې مسلمانانو!**

دغه حکام په شام، يمن، ليبيا، مصر، تونس او نورو... ځايونو کې ستاسو په حق کې بې شمېره جنايتونو کوي. دوی تاسې په دنيا کې په سختۍ او په اخرت کې په اور محکوموي، ځکه هغوی مو پر شريعت د منګلو لګولو خنډ ګرځېدلي دي؛ نو د هغوی کذب او دروغ مه تصديقوئ او په ظلم کې يې مرسته مه کوئ، خبرو ته يې غوږ مه نيسئ او پيروي يې مه کوئ.

**اې مسلمانانو!**

له دغو حکامو هېڅ تمه نه کېږي، ځکه هر چا چې له يهودي دولت سره جوړجاړی وکړ، منافق دی او همدا راز هر چا چې ګومان وکړ، چې له يهودو سره اړيکه نه درلودل ناشونې ده؛ هغه هم منافق دی. دغو ټولو حکامو د الله سبحانه و تعالی او د هغه د رسول الله صلی الله عليه وسلم او مسلمانانو په حق کې خيانت کړی دی؛ ځکه د دې پر ځای چې ستاسې پوځونه د الله په لاره کې د جهاد او د ښکېلاک شوو اسلامي خاورو د ازادۍ او د اسلام  دين د خپرولو لپاره وخوځوي، هغه يې د خپلو ماڼيو ساتلو، د استعمارګرو هېوادونو د ګټو د تامين او ستاسو مسلمانانو وژلو ته ګومارلي دي. نو له هغوی څخه هېڅ تمه نه کېږي او له الله سبحانه و تعالی وروسته له تاسو تمه کېږي،

چې دغه سرکښ حاکمان لرې او ستاسو په مرسته يې د واک ټينګښت پای ته ورسوئ او له تاسو (مسلمانانو) تمه کېږي، چې د خپل وحدت لپاره د نبوت پر منهج د راشده خلافت د تاسيس لپاره هڅې وکړئ.

**او تاسو اې د مسلمانانو د پوځونو مشرانو!** ايا تاسو هغې لحظې ته چې د اسمانونو او ځمکې پروردګار مو د جاهلو او کم عقلو حکامو د خيانت پر وړاندې له چوپتيا څخه وپوښتي، چې په ښکاره يې وينئ او همدا راز ستاسو او د الله له دښمنانو څخه چې په ښکاره او پوره يې پيروي کوئ، ځواب لرئ؟

**خو؛ مشايخ او علمای کرام!** موږ هغوی ته تل يادونه کوو، چې ستاسو اصل د انبياوو وراثت دی. همدا راز ورته يادوو چې د امت د رهبرۍ مسوليت د جاهلو او کم عقلو حکامو په مخنيوي او په پوره، نه په نيمايي د الله سبحانه وتعالی د شريعت د تطبيق او دعوت، په ځانګړې ډول د جهاد د فريضې د ژوندي کولو نه يوازې د اشغال شوو خاورو د ازادۍ لپاره، بلکې په نړۍ کې د اسلام د دين د خپرولو لپاره په ښکاره د حق خبرو کولو مسوليت د دوی پر غاړه دی.

**اې پروردګاره!** د خلافت، قدرت او امنيت پر راوستلو دې موږ سره ژمنه پوره کړه او زموږ لپاره واکمن چمتو کړه، چې نصرت راکړي او موږ ته قدرت راکړي، تر څو بيت المقدس ازاد او د يهودانو له نجاست او چټلۍ څخه يې پاک کړو.

**د. عثمان بخاش**

**د حزب التحرير د مرکزي مطبوعاتي دفتر رييس**

**د صدور کڼه: ۰۰۶**

**۱۴۳۹هـ.ق، د ربيع الاول ۲۷مه**

**۲۰۱۷م، د دسمبر ۲۰مه**